# د پښتنو د قامي وحدت سرلښکر

طارق زمان خان چغرزي



د پښتنو د قامي وحدت ستر مبارز ملي مشر محمد افضل خان لالا د همت،استقامت، رواداری او د امن په ځائې ساتلو يو ځلنده ستورے ؤ. په بنيادي توګه د خان لالا تعلق د يو جاګيرداري کورنۍ سره ؤ. خو د خان لالا خوي خصلت د جاګيردارو خلقو په شان نه ؤ. د خاکسار طبيعت مالک او د ساده ژوند تېرولو يو اعلى نمونه وه. زمونږ په ملک کښې د قام پرستو مشرانو په باره کښې د ملک سره د وفا نه کولو ځائې په ځائې خلق شکونه کوي. خو ولې د ملک سره د وفا نه کولو خبره خان لالا دروغ ثابت کړه. ځکه چې خان لالا يو قام پرست سياسي مشر ؤ. کله چې په ملاکنډ ډويژن بالخصوص سوات ضلع کښې ترهګري په زور و شور کښې شوه نو د سيمې يو شمېر خلقو د ځانونو بچ کولو دپاره د ملک نورو سيمو ته لاړل. خو خان لالا په دې ناوړه حالاتو کښې هم هيڅ کله خپل کور او کلي پرېښودو ته تيار نه ؤ. د خپل وطن،خاورې او د خپل مېړني اولس سره ئې بې انتها مينې هغه ته د بل ځائې تللو اجازت نه ورکولو. او ښه په نره ئې مقابله اوکړه. او هم دغه وخت ؤ چې د تاريخ جبر افضل خان لالا ته د پښتنو د دې وخت يواځينے اتل او قامي رهبر مقام اوبخښلو. چې په لنډو ټکو کښې مونږ د دوي دې مبارزې ته د خوشحال خان، درياخان اوايمل خان د مبارزو سره تشبيه ورکولے شو.

خان لالا ته وطن،قام او حکومتي رټ د خپل سر نه زيات عزيز ؤ. په دغه وختونو کښې په خان لالا کم او زيات اتلس د مرګ حملې شوې وې. چې په يوه حمله کښې ډېر سخت ژوبل شوے هم ؤ. خو بيا هم خان لالا د اولسي او رياستي ادارو سره اوګه په اوګه ولاړ ؤ. په مړانه او بهادرۍ ور ته حکومت پاکستان تمغه شجاعت ورکړې وه. زما د پلار خدائي خدمتګار اروابناد حضرت زمان او زما ترۀ شهيد ولي باغ شمس الزمان

شهید زمونږ په علاقه د فخر افغان باچاخان بابا د فکر او فلسفي کلک منونکي وو. او د بونیر په خاوره هغوي باني قام پرستانو کښې وو. چا چې په دې خاوره د قامي شعور او خپلواکۍ دپاره نه هېرېدونکې مبارزه ګاللې ده. او د رياستي جبر له کبله ئې ډېر وختونه د پاکستان په مختلف زندانونو کښې تېر کړي وو. زما پلار محترم او تره سره په دغه مبارزو او زندانونو کښې افضل خان لالا،ارباب سکندرخان خلیل، دلبرخان ټکر، امیر محمد خان لالا او نور ډېر درانهٔ مشران د یو بل سره شریک وو.

نو په دې حواله د خان لالا د کورنۍ سره او د هغه د فکر مبارزې سره زما تړون او عقیدت فطري خبره ده. خان لالا چرته هم په خپل ژوند کښې په اصولو سودابازي نه وه کړې. د خپل قام، وطن او ژبې خدمت ئې د خپل ژوند مقصد ګرځولے ؤ. د پاکستان په پارلیمنټ کښې په وړومبي ځل خان لالا د صوبې نوم پښتونخوا وئیلے ؤ. دا په خپله د پاکستان په پارلیمنټ کښې یو ځانګړے تاریخ دے.

هغه وخت کښې د اسمبلۍ یو شمېر غړو سخت مخالفت کړے ؤ. او په اسمبلۍ کښې پرې تود بحث هم شوے ؤ. خو خان لالا په خپله خبره ټینګ ولاړ ؤ. او هیڅ چا هم نه ؤ قائل کړے. چې د خپل موقف نه واپس شي. کله چې د عوامي نیشنل پارټۍ (نیپ) او د جمعیت علماء اسلام پاکستان په صوبه کښې شریک حکومت د مرکزي حکومت سره په اختلافاتو مات کړے شو.

نو د صوبې ګورنر اسلم خټک صېب د ذوالفقار علي بوټو صېب په هدایت خان لالا سره ملاقات اوکړو. او ور ته ئې اووئیل چې ته به د صوبې وزیراعلی شې خو نیپ پرېږده. خان لالا اسلم خټک صېب ته اووئیل چې زما په نظر کښې ته ډېر هوښیار سړے ښکاریدې. ما ته کرسۍ نه ده پکار. هم په دغه انکار حکومت خان لالا ګرفتار کړو. او خان پور زندان کښې ئې څلور کاله سزا تېره کړه.

**کله چې ضیاء الحق مارشل لاء اولګوله. نو د نورو قیدیانو سره ئې خان لالا ته هم رهائي ورکړه. او ور ته ئې په حکومت کښې د شاملېدو پیغام هم ورکړو. خو ضیاء الحق صېب ته د خان لالا د اصول پسندۍ پته نه وه. خان لالا په حکومت کښې شاملېدو یعنې وزارت نه انکار وکړو.**

خان لالا د پښتنو د حقوقو غږ د دنیا ګوټ ګوټ ته رسولے ؤ. د لوئې فخر افغان باچاخان د افکارو منونکے ؤ. که یو خوا د باچاخان بابا د عدم تشدد فلسفه وه نو بل خوا ته د پښتون اولس د یو والي،خپل والي او خپلې خاورې خپل اختیار خبره وه. نو خان لالا د بابا وینا د خپل ژوند مقصد ګرځولے ؤ. د خان لالا ژوند د نړۍ د امن پسندو او قام پرستو لپاره سبق دے. نن خان لالا زمونږ په مېنځ کښې نشته خو د خان لالا افکار ژوندي دي. قام پرست او امن پسند خلق د خان لالا د افکارو نه رهنمائي اخستے شي. مړ هغه څوک شي چې د وطن قام او ژبې لپاره ئې څه خدمات او هلې ځلې

نـه وي کړي. خـان لالا يـو داسې تـاريخ رقم کړے دے چې تل تر تله به ژوندے وي.

د پښتون قام،وطن،ژبې او امن ستر مبارز ؤ. څـنګه چې د خان لالا شخصيت او قد و قامت د لـر پښتـونـخوا خلقو ته معلوم ؤ. هم دغه رنګ د پښتـنـو لوئې هېواد افغانستـان کښې هم خان لالا تــه د عـقيـدت او احتــرام پــه نـظـر کتلے شو. د افـغـانستـان حکومتي مشرانو،سياسي مشرانو او قـام پـرستـو مشرانو سره ئې ژورې اړيکې وې. د افـغـانستـان صـدر ښاغلي اشرف غني د خان لالا مـرګ د خطې لوئې زيان ګڼلے دے. او زياتوي چې خان لالا يو مهربان،ماډريټ او بالغ نظر سياستدان ؤ. پـخـواني اولسمشر حامد کرزي خان لالا دملي يـکـجهتۍ عـلامـت ګـرځـولے دے. او مرګ ئې د خطې زيان او خدمت ئې نه هېرېدونکے دے.

نـورو يـو شـمېـر سيـاسي مشرانو، اعلی فـوځـي چـارواکو او د سول سوسائټۍ خلقو د خان لالا مـرګ د خـطې لپاره زيان ګرځولے دے. خو بل اړخ تـه ئې د خـدماتو ستائينه هم په ښه ډول کړې ده. څـنګـه چې د پښتنو په رواياتو کښې د حجرې يـو ځـانګړے مـقام دے. هم د هغې رواياتو لاندې خـان لالا تـر مـرګ پورې د حجرې تقدس په ځائې ساتلے ؤ. که به وزارت ؤ که بله حکومتي عهده يا سيـاسـي لويه څوکۍ خو د خان لالا حجره د هر چا لپـاره آزاده وه. هـر غـريـب پکښې پـه پرانستې تـنـڼۍ قـدم ايښودے دے. او هر غريب،امير،لوئې او وړوکے ئې سيـنـې تــه لـکـه د خپل بچي نزدې کړے دے. د دې نـه د هغوي د حجرې مېلمستيا او د پښتـنـو رواياتو سره بل کوم لوئې ثبوت کېدے شـي چې تـر مرګ پورې په سخته ناروغتيا کښې خـــان لالا د حـجـــرې نــاستــه نــه وه پـرېښودې. د مېلمستيا او د شفقت لويه نمونه وه.

د خـان لالا ژونـد هـر اړخ دومـره مثالي او منفرد رنګونه او خاصيتونه لري چې بلها کتابونه پـرې ليـکلے شي. خان لالا چې څنګه وسيع النظر او اصول پسند سياستدان ؤ هم دغه رنګ خان لالا ستر اديب،دانشور او لکيوال هم ؤ. د پښتو ژبې او ادب د پــرمـختګ لپـاره د هـغـوي هـلې ځـلې او خـدمـات څـوک هېـرولے نه شي. خان لالا پينځه کتابونه مرتب کړي او ليکلي ئې دي. چې نومونه ئې څـه په دې ډول دي. (۱) پښتـون قامي وحدت (۲) د ډيورنډ کرښه (۳) د پښتونخوا غږ (۴) د منزل په لور (۵) د پښتنو په خاوره پردۍ جګړه.

دوه کتابونه ,,پښتون قامي وحدت،، او د ,,منزل په لور،، پښتو او اردو ژبو کښې چاپ دي. د خان لالا آخري کتاب ,,د پښتنو په خاوره پردۍ جګړه،، دے دا ځـليدونکے او پرقيدونکے ستورے په کال ۱۹۲۲ء کښې په سوات کښې پېدا شوے ؤ. او په کال ۲۰۱۵ يکم نومبر د دنيا نه رخصت شو. د خـان لالا په جنازه کښې د لوئې مرتبې،سياسي، قامي،سماجي او اعلی فوځي چاراواکو ګډون کړے ؤ. په جنازه کښې ئې د وګړو شمېر په زرګونو ؤ.

خـان لالا خپـل کلي درشخيله مټه سوات کښې خـاورو تـه وسپـارلے شو. الله دې پښتنو له توان ورکړي چې د خان لالا افکار ژوندي اوساتي. او الـلـه دې خـان لالا تـه پـه جنت الفردوس کښې اعـلـی مـقام ورکړي او کورنۍ له صبرجميل او د خان لالا په نقش قدم د تګ توان ورکړي. آمين.